د امریکا په متحده ایالاتو کې د خوږیانیو د یووالي او انسجام ټولنې درېیمه غونډه
نېټه: ۱۴ اګست ۲۰۲۵
وخت: د شپې له ۹:۰۰ څخه تر ۱۱:۳۰ بجو پورې
ځای: د واټس‌اپ له لارې آنلاین غونډه

۱. د غونډې پیل

غونډه د قرآن کریم مبارکو آیتونو په تلاوت د محترم نسیم خان شیرزاد لخوا پیل شوه. وروسته د تېرې غونډې لنډ راپور وړاندې شو، چې پکې د مسؤلیتونو اجراآت، د ګډونوالو تعامل، او د عملي ګامونو ارزونه وشوه.

۲. د تېرو موضوعاتو تعقیب

الف. د مشرتابه ټاکل:

د رهبرۍ جوړښت او د ټاکلو میکانیزمونو په اړه بحث ونه شو؛ موضوع راتلونکې غونډې ته وځنډول شوه.

ب. حضوري ناستې:

د جغرافیایي محدودیتونو له امله، د حضوري غونډو پر ځای د مجازي تصویري ناستو د ترسره کولو لپاره د ټکنالوژۍ برابرولو پرېکړه وشوه.

ج. رسمي نوم¬لیکنه:

موضوع لا هم بحث او مشورې ته اړتیا لري؛ پرېکړه ونه شوه.

د. کړنلاره:

ډاکټر شمس او یوسف شیرزاد ته د کړنلارې د چمتو کولو مسؤلیت سپارل شوی و؛ د وخت د کموالي له امله تفصیلي بحث ونه شو.

۳. د مسؤلیتونو نوی وېش

- ښاغلی محمد نثار هوایي په رضاکارانه توګه د معلوماتو د تنظیم مسؤلیت پر غاړه واخیست.
- نوموړي یو اغېزمن ډېټابېس جوړ کړی او د معلوماتو د راټولولو لپاره یې معیاري آنلاین فارم به ژر په ګروپ کې شریکړی.

۴. لاسته راوړنې

- د کړنلارې لومړۍ مسوده چمتو شوه (ډاکټر شمس او یوسف شیرزاد).
- د غړو د ثبت ډېټابېس جوړ شو (محمد نثار هوایي).
- د معلوماتو د راټولولو آنلاین فارم فعال شو (محمد نثار هوایي).

۵. نظریات او وړاندیزونه

الف. د معلوماتو خوندیتوب:

حاجي صاحب لعل ګل لعل د معلوماتو د خوندیتوب په اړه اندېښنه څرګنده کړه. محمد نثار هوایي ته لازم سپارښتنې وشوې؛ نوموړي د عملي کولو ډاډ ورکړ.

ب. مالي راپور:

- د کانکور پروګرام لپاره تر اوسه ۴۸۵ ډالر راټول شول.
- د تراب صاحب محترم د مقبرې او اثارو چاپ لپاره هم یواندازه مرسته راټوله شوی او تراوسه پرې دا مرسته د یو سف سره ده.

- د ګډونوالو په وړاندیز، یادې پیسې به د خوږیانیو سراسري شورا ته او یا دمقبرې دجوړیدو کمیټې ته و سپارل شي.
-

ج. اداري او لوژستیکي پرېکړې:

- د کړنلارې مسوده به په راتلونکې غونډه کې بحث شي (یوسف شیرزاد).
- راتلونکې غونډه به تصویري او رسمي وي.
- د غونډو د تنظیم لپاره مقرره چمتو کېږي (اجمل رشیدی).
- د معلوماتو د خوندیتوب لپاره به د سرور او ویب‌سایټ کارونې په اړه مشورې وشي (ولایت ولی او اجمل).

۶. د غونډې پای

غونډه د دعا په لوستلو پای ته ورسېده، چې پکې د ټولنې د بریا، خیر، او اتفاق غوښتنه وشوه.

راتلونکې غونډه:

د ۲۰۲۵ کال د سپټمبر ۱۰ لسمه نیټه؛ غونډه د عملي چارو، راپورونو، او نوو وړاندیزونو د ارزونې ته ځانګړې شوې ده.